مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۱/۰۹/۳۰

# ديوبند او مذهبي بندونه

په ۵۷ اسلامي هيوادونو او پاتې نړۍ کې د مسلمانانو ټول ټال شمير، يو مليارد او ۸۰۰ مليونو ته رسي. ۸۹ سلنه يې سنيان او ۱۱ سلنه شيعه ګان دي چې زياتره يې په ايران، عراق او هند کې اوسيږي. د ټولو سنيانو ۴۳ سلنه حنفيان او ۵۷ سلنه يې مالکيان، شافعيان، حنبليان او اهل حديث/سلفيان دي. د حنفي مذهب پراختيا درې عمده لاملونه لري: لومړی؛ د امام اعظم ابوحنيفه (۸۰ /۱۵۰هـ ق) خپل علمي شخصيت او له څو تنو اصحابو (رض) سره د هغه ليدنه ده، يعنی تابعي دی. هغه د څلور واړو مذهبونو په امامانو کې تر ټولو مشر او په شرعي احکامو کې د اجتهاد او قياس سر لارې بلل کيږي.

دوهم لامل، د ده شاګرد امام ابو يوسف د عباسيانو څواکمن قاضي القضات وو؛ له همدې وجې حنفيت د عباسي خلافت (۷۵۰ - ۱۲۵۸م) رسمي مذهب وو. بيا عثماني سلطنت (۱۲۹۹ - ۱۹۲۲م) د شپږو پيړيو لپاره له بغداد څخه د بلغاريا تر پولو، ټولو سلاطينو يې په دې پراخه قلمرو کې حنفي فقه پلې کوله. دريم مهم لامل يې دا دی چې حنفي فقه د نص تر اړخه، په منطق او استدلال باندې لنګر اچوي او د نورو مذاهبو په پرتله؛ د زماني د غوښتنو سره د همغږۍ لا زيات ظرفيت او وړتيا لري. د هند په لويه وچه کې مغول شاهان، له ۱۵۲۶ څخه تر ۱۸۵۷ميلادي کال پورې د خپلې واکمنۍ په ټوله موده کې د حنفي مذهب پيروان وو. مغول ټولواک، اورنګ زيب عالمګير په خپلې پاچاهۍ کې د هند ۴۸ مخور عالمان راټول کړل او په اتو کالو کې يې د عالمګيري فتوا په نوم د حنفي مذهب تر ټولو ستر کتاب تاليف کړ.

د دارالعلوم ديوبند جوړيدل: کله چې د هندوستان خلکو په ۱۸۵۷م کال کې د پيرنګي ښکيلاک پر ضد ستر پاڅون وکړ، نو دغه غورځنګ ډير بد بد وځپل شو او په زرګونو مسلمانان په کې ووژل شول. (د باليوډ، د عامر خان د منګل پانډې فلم د همدې پاڅون څخه د الهام پر بنسټ جوړ شويدی). له دې پيښې ۹ کاله وروسته، مولانا محمد قاسم، رشيد احمد ګنګوي او څو تنو ملګرو يې په ۱۸۶۶ميلادي کال کې د ديوبند په کلي کې يو دارالعلوم جوړ کړ او د دغه کلي نوم يې وربانديې کيښود. ديوبند، د هندوستان د أترپرديش ايالت د سهارنپور ولسوالۍ اړونده ښار دی چې د ډهلي شمال ته د ۱۵۷ کيلو مترو په واټن، د ګنګا او جمنا د تاريخي سيندونو په منځ کې پروت دی. ديوبند ۱۶۰ زره تنه نفوس لري او ۷۱ سلنه هستوګن يې مسلمانان دي. ديوبند اوسمهال څلور نيم زره شاګردان لري؛ رئيس يې مولانا ارشد مدني نوميږي؛ ټول شاګردان يې نارينه دي او نجونې په کې نشته.

ديوبنديان، شاه ولي الله دهلوي (۱۷۶۳-۱۷۰۳م) ته د خپلې مفکورې او مبارزې د سرلښکر په سترګه ګوري. د دهلوي خپل نوم أحمد، په خته سيد او په شاه ولي الله باندې مشهور دی. هغه د عبد الوهاب نجدي همزولی او د ابدالي احمد شاه بابا نژدې دوست وو چې په ډهلي کې يې ور سره ليدلي کتلي وو. دهلوي لومړنی عالم وو چې قرآن کريم يې له عربي څخه فارسي ته وژباړلو او يو ديني او د عامه پوهاوي غورځنګ يې پيل کړ. البته له مړينې وروسته يې ځوی، شاه عبد العزيز او بيا يې لمسي شاه اسماعيل هغه په يو سياسي بهير باندې بدل کړ. ندوة العلماء، جمعيت علمای هند، احرار الاسلام او تبليغي جماعت د همدې ديوبندي مکتب زيږنده او د هغه له فارغينو څخه رامنځ ته شويدي. د عليګړ پوهنتون سر سيد احمد خان، اشرف علي تهانوي، شبلي نعماني او ابوالحسن ندوي نور هغه مهم شخصيتونه دي چې د هند د مسلمان اقليت په بيدارۍ او قيادت کې ځانګړی ځای لري.

د يوې سياسي او تاريخي پريکړې په توګه، د ديوبند مهمو مشرانو په ۱۹۴۵م کال کې د هندوستان له ويش سره مخالفت وکړ. البته مولانا شبير احمد عثماني، غلام غوث هزاروي، مولانا مفتي محمود، مولانا عبد الحق حقاني، مولانا شمس الحق افغاني او د مولانا يوسف بنوري په څير مشهورو عالمانو د پاکستان د جوړيدو ننګه وکړه او دلته يې جمعيت علمای اسلام رامنځ ته کړ. په کراچۍ کې وفاق المدارس او په اکوړه خټک کې دارالعلوم حقانية د ديوبندي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مکتب د سترو مرکزونو په توګه خپل فعالیت پیل کړ. مولانا شبیر احمد عثماني د خپل استاذ، مولانا محمود الحسن دیوبندي لخوا په اردو ژبې لیکل شوي تفسیر له نوري شرحې او تفصیل سره ترتیب او چاپ کړ، کوم چې څو کاله وروسته د کابلي تفسیر په نوم؛ پښتو او دري ژبو ته وژباړل شو.
د امریکا مشهوره راډیو، NPRد سپتمبر په اتمې پخپل یو راپورتاژ کې له دیوبند څخه د لیدني په مهال داسې وایي « د طالبانو ٪۹۹ خلکو د هندویزم په زړه کې جوړ دیوبند نه دي لیدلي، خو ایډیالوژي او نظریات یې له همدې دارالعلوم څخه خړوبیږي. دوئ کټ مټ د هغو احکامو او اصولو پیروي کوي چې د دغې مشهورې مدرسې لخوا یوه نیمه پیړۍ وړاندې معرفي شویدي». د دوئ په نصاب کې، په څرګنده د جهاد په اړه کوم خاص مضامین نه میندل کیږي. دلته تعلیم وړیا دئ؛ دولتي بسپنې هم نه مني؛ ټولې مرستې د عام ولس له خوا کیږي؛ سل تنه استادان او همدومره اداري پرسونل لري. د دیوبند خپله رسمي خپرونه/سایټ په ګوته کوي چې هغوئ د حنفي فقهې د چوکاټ دننه، منځلاریتوب، د سنتو پیروي، د سوچه عقیدې خپرول او د اسلامي کلتور وده یې اساسي موخې دي. دیوبندیان په فکري ډګر کې اشاعره او ځینې مشران یې د چشتیه او نقشبندیه طریقو مریدان دي.
د دیني تحریکونو څیړونکي په دې باور دي چې په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل په مهال، د خلیج ځینو شتمنو مذهبي کړیو او وګړو له دیوبند او دیوبندیانو سره ښې پریمانه مالي مرستې وکړې، ترڅو د هغوئ فکري چاپیریال د سلفیت په خم کې رنګ او په سیمه کې د ایران د نفوذ مخه ډب کړي. ولی د دیوبند مشران دا نه مني چې ګوندې د شتمنو عربانو پیسو ته یې لمن نیولې او یا یې خپله تقلیدي تګلاره بدله کړیده. داسې ښکاري چې دیوبندیان په ډیموکراسی باور لري او په انتخاباتو کې ګډون کوي. دوئ مني چې په انتخاباتو کې ګډون، په محکمې کې د قاضي په وړاندې د ګواهی په څیر یوه وجیبه او دنده ده.
دیوبندیانو د هند د خپلواکۍ په غورځنګ کې د مهاتما ګاندي ملګرتیا وکړه او د ۱۹۸۰م کال په انتخاباتو کې د میرمن اندرا ګاندي د ملاتړ ترڅنګ یې په څو دائرو کې خپل کاندیدان هم ودرول. مولانا اسد مدني دیوبندی چې د جمعیت علمای هند رئیس وو، د کانګرس ګوند په مرسته د هندوستان د پارلمان غړی وو. مولانا مفتي محمود په ۱۹۷۲م کې د خیبر پښتونخوا ستر وزیر وو؛ د نوموړي ځوئ، مولانا فضل الرحمن د پاکستان د ولسي جرګې غړی او مولانا سمیع الحق د پاکستان د مشرانو جرګې عضویت درلود. نوموړی د ۸۱ کلنۍ په عمر، د ۲۰۱۸م کال د نومبر په دوهمه په راولپنډۍ کې د خپل کور د انګړ دننه د یو مجهول کس لخوا په چړې ووژل شو چې تر اوسه یې د قاتل درک ونه لګید. د حقانیه مدرسې اوسني مشر د هغه ځوئ، مولانا حامد الحق حقاني دی.
په ۲۰۱۴م کال کې د لندن د ټایمز ورځپاڼې ولیکل چې د انګلستان ۴۵ سلنه جوماتونه د دیوبندي فکر اړوند دي. همدغه اخبار بل ځای کې لیکي « په ۲۶ هیوادونو کې دیوبندیانو اسلامي مرکزونه او جوماتونه جوړ کړي او نوی نسل یې د خپلې افراطي نظریې څخه اغیزمند کړیدی». د ND TV یو راپورتاژ وایي چې دیوبند نژدې دوه زره مدرسې لري چې د هند په پراخه هیواد کې آبادې دي. د دغه دارالعلوم مشر وایي چې موږ د ښځو د تعلیم مخالف نه یو، بلکې مخالفت د ګډ تعلیم سره دي چې ځوانان او پیغلې څنګ په څنګ په یو ټولګي کې ناست وي. هندي مسلمانان په هرې دیني موضوع کې خپل ځانونه د دیوبند فتوا ته ژمن ګڼي، البته په سیاسي غورځو پرځو کې بیا هر څوک خپله لاره پرمخ بیایي.
مذهبي ګوندونه، دیوبندیان دي که بریلیان، صوفیان دي که سلفیان، شیعه ګان که اخوانیان، دوئ د تصوف، اجتهاد، فلسفې، عقیدې، سیاست او د نورو ادیانو له اتباعو سره د اړیکو په اړه، ژور توپیرونه لري. د دوئ خپل منځي ناندری د سیاسي ګوندونو له اختلاف څخه ډیرې خطرناکې دي؛ ځکه دوئ د فتوا ځواکمنه وسله په لاس کې لري او سیاسیون ورڅخه محروم دي. د څارونکو له نظره، دیوبندیان د حنفي فقهې اصولو او بندونو ته پابند مذهبي خلک دي او اجندا یې محلي او مذهبي ده. دیوبندیان د اخوانیانو په څیر د سیاسي اسلام د مفکورې پلویان نه دي؛ چیرته چې د جغرافیایي قلمرو په ځای؛ عقیدوي سرحدونه معتبر ګڼل کیږي.
د همدې میاشتې (سپتمبر) په دیارلسمې د اکوړې د حقانیه مدرسې ویاند، مولانا یوسف شاه د بي بي سي پښتو سروس سره په مرکه کې وویل: « په خوشحالۍ سره وایم چې اوس د افغانستان د اسلامي امارت په کابینه کې اته تنه وزیران، څموږ د مدرسې فاضلان (فارغین) دي». لویدیزې رسنۍ او څارګرې اداري انګیري چې څموږ په سیمه کې ګڼ شمیر اورپکې ډلې او وسله وال تنظیمونه په واقع کې د دیوبند له شاګردانو او پیروانو څخه دي. ولې د یوبندي مشران او پلویان یې دا ډول تورونه په کلکه ردوي او هغو ته د خپلو مخالفینو د لوخ لغړ پروپاګنډ په سترګه ګوري.
غالبا د ۱۹۹۹م کال د اکتوبر دوهمه اونۍ وه چې زه د خپل خبري آژانس (سهار) لپاره د یوې مرکې په خاطر، اسلام آباد ته لاړم. په پېښور کې پخواني افغان کونسل جنرل او د امریکا غږ اوسني خبریال، سید سلیمان شاه په دې سفر کې زمالتیا کوله. د مولانا فضل الرحمن د میلمستون په تالار کې د جمعیت علمای اسلام ځینې مشران هم خوا وشا ناست وو. نو ما د خپلې مرکې په پای کې له ښاغلي مولانا څخه وپوښتل چې آیا تا له ملا محمد عمر مجاهد سره د امیرالمؤمنین په توګه بیعت کړیدی؟ نوموړي را ته په ځواب کې وویل: « نه، ما بیعت نه دی کړی او مکلف هم نه یم. زه پاکستانی یم، موږ خپل قانون، اردو او سیستم لرو او هغه ته ژمن یو. افغانانو ته دې اسلامي امارت مبارک وي او موږ ته خپل جمهوریت».


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

---------------------------------------------

په مننی سره، باید یادونه وکړم چې ما په خپلې پاسنۍ څېړنې کې دGoogle, Wikipedia ، د NPR او BBC له راډیوګانو، د NDTV, Geo News ټلویزیوني چینلونو، د هشت صبح او The Times له ورځپاڼو څخه استفاده کړیده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ